د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

**۱۰/ محرم الحرام /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۵/ سرطان/۱۴۰۵هـ، ش**

# دعاء مغز د عبادت ده، او د الله تعالیٰ سره مستقیمه اړیکه ده او د ستونزو د حل یوه بهترینه وسیله ده

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي جعل الدعاء سلاح المؤمنين ، وفرَّج به كروب المضطرين ، والصلاة والسلام على إمام المرسلين ، وعلى آله وصحبه أجمعين ، أما بعد :قال الله سبحانه وتعالى: (وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ). غافر :( ٦٠ )

**درنو حاضرینو او مسلمانانو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

په عباداتو کې یو داسې عبادت دی، چې د ټولو عباداتو مغز ده او د الله تعالی سره مستقیمه اړیکه ده او د ټولو ستونزو د حل بهترینه وسیله ده ، چې هغې ته دعاء ویل کیږي. دعاء د بنده او د رب ترمنځ مستقیمه اړیکه ده او الله جل جلاله ته د رسیدو محکمه رسۍ ده او د بندګۍ او عبودیت ریښتینی مظهر دی.

په اسلام کې دعاء ډیره لوړه مرتبه لري، دعاء د انسان د روح غذاء ده او د انسان دجسم دواء ده او د مشکلاتو لپاره د حل مؤثره لاره ده.

دعاء دمسلمان ټولې ستونزې حلوي، مشکلات یې رفع کوي، ضعف یې په قوت بدلوي او په دښمن یې غالبه کوي.

دعاء په نفس کې اطمینان پیدا کوي او د بنده څخه ناامیدي لرې کوي او د الله تعالی د رحمت او امید دروازې ورته برسیره کوي.

د دعاء په وسیله بلاوې او آفتونه لرې کیږي ، بدمرغي له منځه ځي او ډیری زیاتې ستونزې په دعاء سره حل کیږي.

ددعاء په وسیله ډیر ګناهونه ببښل کیږی، او د ډیرو ښیګڼو او رحمتونو دروازې ددعاء په وسیله پرانیستل کیږي، د دعاء په وسیله د مسلمان حاجتونه او آرمانونه پوره کیږي او نعمتونه پرې تر لاسه کیږي.

په حدیث شریف کې په دې وجه دعاء ته د عبادت مغز ویل شوی دی ، چې په دعاء کې بنده خپل رب ته خپله عاجزي وړاندې کوي او د غمونو څخه ورته فریاد کوي او د الله تعالی څخه صحت ، عافیت ، رزق او روزي او ددنیا او آخرت خیر او نفع غواړي او د مصیبتونو ددفع کولو لپاره د خپل رب څخه مرسته او مدد غواړي او اکثره عبادات په همدې خبرو ولاړ وي.

هر انسان په ژوند کې مختلف قسم دردونه، غمونه، مصیبتونه تجربه کوي او په جسمي، مالي او ددښمن څخه په ویره مبتلاء کیږي ،چې ددې ټولو ستونزو د حل بهترینه وسیله هغه دعاء ده.

دعاء هغه عبادت دی ، چې د بنده په عاجزی، خاکساری او بې وسې باندې دلالت کوي ، کوم چې د عباداتو اصل ګڼل کیږي.

کله چې دُنیوي اسباب د انسان د ستونزو په حل کې بې اثره شي او بنده د دُنیوي اسبابو د اثر څخه نااميده شي ، نو انسان لره په کار دي چې خپل حاجت ، ضرورت او مشکل ددعاء د لارې مستقیما خپل رب، مالک او خالق ته وړاندې کړي، هغه رب او خالق ته چې انسان ته د مرۍ د رګ څخه هم زیات نژدې دی او هر څه ویني او هرڅه اوري. الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ).البقرة:(۱۸۶)

ترجمه:او کله چې پوښتنه وکړي ای محمده ! له تا څخه بند ګان زما (له لريوالي او نږديوالي) زما نو بېشکه زه نژدې يم دوی ته په علم او اجابت سره قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کې چې وبولي ما نو ښايي چې دوی هم ومني حکم زما (اطاعت) او ټينګ دې اوسي په ايمان په ما باندې ښايي چې دوی په سمه لاره محکم پاتي شي.

دعاء د الله تعالی خالص عبادت دی. عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ص:۳۷۵] يَقُولُ: «الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ» ثُمَّ قَرَأَ {وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} [غافر: ٦٠]: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٣٧٤)

ژباړه: د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې وه يې فرمايل: دعاء همدا اصل عبادت دی بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت مبارک ولوستلو: {وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ}.(غافر:(٦٠).

ترجمه: او فرمايي رب ستاسې (ای بندګانو زما) تاسې وبولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې). بېشکه هغه کسان چې تکبر (سرکښي) کوي له عبادت څخه زما ژر ده چې ننه به وځي دوی په دوزخ کې په دې حال کې چې خوار او سپک وي.

الله جل جلاله په دې مبارک آيت کې دعاء ته عبادت ويلې دی او څوک چې د دعاء څخه مخ ګرځوي د هغه لپاره يې جهنم داخليدل د سخت وعيد په توکه ذکر کړی دی.

دعاء تر بل هر عمل څخه الله تعالی ته خوښ عمل دی. په اعمالو کې د دې څخه بل عمل الله تعالی ته محبوب نشته چې بنده د الله تعالی څخه خپل حاجت وغواړي او هغه ته تضرع وکړي . په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ». سنن الترمذي ت بشار (٥/ ٣١٥)

ژباړه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نشته ډير عزت مند شی د الله تعالی په نزد له دعاء څخه.

دعاء د ټولو پريشانيو د لرې کولو او دټولو شرعي حاجتونو د پوره کولو بهترينه وسيله ده.

بې شمیره مریضان په دعاء جوړ شوي دي او صحت یاب شوي دي.

په بې شمیره پریشانیو او په مصیبتونو کې راګیر انسانانو پریشانۍ او مصیبتونه په دعاء سره له منځه تللي دي.

بې شمیره فقیران الله تعالی ددعاء په برکت غنیان ګرځولي دي.

بې شمیره ګناهګارانو ته ددعاء په برکت الله تعالی بخشش کړی دی.

بې شمیره ګمراهانو ددعاء په برکت هدایت او سمه لار موندلې ده.

په قبرونو کې مدفون بې شمیره انسانان د دعاء محتاجه دي او بې شمیره مړو ددعاء په برکت له عذاب څخه خلاصون موندلی دی.

دعاء د امتحاناتو او ازمېښتونو او مصیبتونو د مخنیوي لپاره د مسلمان سلاح ده. او د الله تعالی پیغمبرانو د دښمنانو او مصیبتونو پر وخت دعاء ته توجه کوله. دعاء د ټولو پیغمبرانو او رسولانو له خوا تعقیب شوې لار ده.

کله چې د نوح علیه السلام خپل قوم هغه ته -نعوذبالله- درواغجن نسبت وکړ، نو نوح علیه السلام دعاء ته مخه کړله او داسې دعاء یې وکړله:(وقال نوح رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا *إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا *رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا).نوح:(۲۶-۲۸)

ترجمه: وویل نوح ای ربه زما مه پرېږده پر ځمکه باندې له کافرانو څخه هيڅ اوســېدونکی (یا ګرځېدونکی او ټول هلاک کړه) بېشکه ته که چېرې پرېږدې ته دوی ګمراهان به کړي دوی مؤمنان بندګان ستا او نه ځېږوي دوی مګر خو فاجر بېباکه ناشکره بد کاره له حقه منکره. ای ربه زما وبښــه ما او مور او پلار زما او هغه څوک چې ننوځي کور ښېږۍ مســجد زما ته حال دا چې ایمان لرونکي وي او (وبښه) ټول ایمان لرونکي نارینه او ټولې ایمان لرونکې ښځې.

نو اللـه تعـالی د هغه دعاء قبوله کړه او په قوم نوح باندې یې د آســمان دروازې رابرســیره کړلې.( فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّـمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ *وَفَجَّرْنَـا الْأَرْضَ عُيُونًـا فَـالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَـدْ قُدِرَ *وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ *تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ).القمر:(۱۱-۱۴)

ترجمه: نو پرانیستل مونږ ورونه د اسمان په اوبو ډېرو راتویې شویو سره (له اسمانه) او وبهولې مونږ له ځمکې څخه هم چینې بیا سره ګډې شولې ټولې اوبه (د اسمان او د ځمکې) په هغه کار باندې چې ټاکلی مقرر شوی وو (چې اهلاک د قوم د نوح وو).او سور کړی وو مونږ دغه (نوح) پر (ښېړۍ چې) خاونده د تختو پلنو او میخونو پریړو (غټو) وه چې تلله ګرځېده زمونږ د سترګو لاندې چې مولیده او څارنه مو ورله کوله.
کله چې د ابراهیم علیه السـلام قوم ددې اراده وکړله چې هغه په اور کې واچوي، نو ابراهیم علیه السـلام داسـې دعاء وکړله:( حسبي الله ونعم الوکیل) سنن النسائي الکبری (۶/ ۳۱۶)

ژباړه: کافي دی مالره الله او هغه الله غوره ساتونکی دی.

الله تعالى د هغه دعاء په دې ډول قبوله كړه:(قُلْنَا يَانَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ *وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ).الانبياء:(٦٩-٧٠)

ترجمه: وويل موږ اى اوره شه يخ او خاوند د سلامتيا پر ابراهيم باندې.او غوښتل (نمرود) پر ابراهيم (مكر د سوځولو) نو گرځول موږ دوى سخت زيانكاران (چې پخپل فعل كې كامياب نشول).

كله چې يونس عليه السلام ماهي ژوندى تير كړلو ، نو يو نس عليه السلام د ماهي په خيټه كې او دبحر په تاريكيو كې داسې دعاء وكړله:( لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ). الانبياء:(٨٧)

ترجمه: پس غږ يې وكړ په تيارو كې داسې چې نشته بل برحق معبود مگر ته يې (يواځې) پاكي ده تا ته له عيبونو بېشكه چې زه وم له ظلم كوونكو څخه (په خپلو تللو كې بې له اذن څخه )

الله تعالى د يونس عليه السلام دادعاء قبوله كړه او هغه يې دماهي له خيټې څخه راوويستلو.(فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ).الانبياء:(٨٨)

ترجمه: پس قبوله كړه موږ دعاء د دغه (يونس) او نجات مو وركړه دغه(يونس) ته له غمه (د سينداو ماهي) او همداسې (چې يونس ته مو نجات وركړ) نو نجات وركوو موږ مؤمنانو ته.

كله چې فرعونيانو د موسى عليه السلام شا ونيوله او قوم موسى عليه السلام ته وويل چې اى موسى عليه السلام دوى خو موږ ته راورسيدل، نو موسى عليه السلام دعاء وكړه چې(قال كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ). الشعراء:(٦٢)

ترجمه: وويل (موسى سبطيانو ته) چې نه ده داسې بېشكه له ما سره رب زما دى په نصرت او اعانت ژر به وښيي ماته (لاره د نجات)

نو الله تعالى د هغه دعاء قبوله كړه او هغه ته يې ددښمن څخه د خلاصون په دې ډول ور وښودله.(فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ) الشعراء:(٦٣)

ترجمه:پس وحي (حكم) وكړ موږ موسى ته داسې چې ووهه ته په همسا خپلې بحر ( دقلزم يا دنيل پس ده وواهه) پس و چاوده (بحر دولس ټوټې شو) پس شوه هره برخه (يوه ټوټه جدا شوې هسكه اوچته) لكه اوږد لوړ غر (په هسكوالي او چتوالي كې).

كله چې ايوب عليه السلام مريض ؤ او الله تعالى ته يې داسې سوال وكړ:( وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ). الانبياء:(٨٣)

ترجمه:او (ياد كړه اى محمده قصه د) ايوب چې ندا غږ يې وكړ رب خپل ته چې بېشكه رسېدلى دى ماته ضرر (رنځ او سختي په بدن كې) او ته ډېر مهربان يې له ټول مهربانانو څخه.

نو الله تعالى د ايوب عليه السلام د سوال په ځواب كې وفرمايل:(فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَذِكْرَى لِلْعَابِدِينَ).الانبياء:(٨٤)ترجمه:پس قبول كړه موږ دعاء دده پس لرې كړه موږ هغه چې وو په ده باندې له (له بدني او مالي) ضرره او وركړه موږ دغه ايوب ته اهل دده او په مثل د هغوى له هغوى سره په رحمت سره له نزده زموږ.

حضرت زکريا عليه السلام اولاد نه درلود او بوډا شوی ؤ، نو هغه د الله تعالی څخه اولاد وغوښتلو.( وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ )الانبياء:(٨٩)

ترجمه: او (ياد کړه ای محمده قصه د) زکريا کله چې غږ وکړ رب خپل ته (داسې چې) ای ربه زما مه پرېږده ما يواځې بې اولاده او ته يې غوره له (ټولو) وارثانو نه.

نو الله تعالی د زکريا عليه السلام دعاء قبوله کړه او هغه ته يې اولاد ورکړ.( فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ).الانبياء:(٩٠)

ترجمه: پس قبول کړه مونږ دعا د دغه زکريا او ومو باښه دغه ته يحيی او صالحه مو کړه ده ته ښځه دده (د ولادت لپاره له شنډوالي څخه وروسته)بېشکه دغه (مذکور انبياء) وو دوی چې تلوار به يې کاوه په (کولو د نېکو عملونو او طلب) د خيراتونو او بللو به يې مونږ له جهته د مينې د ثواب او له جهته د وېرې د عذاب او وو دوی خاص مونږ ته ويريدونکي متواضع.

همدا راز کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو د بدر په غزوه کې د الله تعالی څخه دعاء وغوښتله ، نو الله تعالی ددعاء اجابت په لاندې ډول وکړ: (إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ). الانفال:(٩)

ترجمه (ياد کړه) هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسې رب خپل ته نو الله ستاسې استغاثه قبوله کړه لپاره د فرياد ستاسې چې بېشکه زه مرسته کوونکی يم له تاسې سره په زرو تنو له پرښتو څنې يوه په بلې پسې راتلونکې.

دعاء هغه ستر عبادت دی چې دانسان تقدير بدلوي. ځينې وخت الله تعالی د انسان په هکله يوه معلقه پريکړه کړې وي ؛ خو دانسان په رېښتيني دعاء سره او دده په الحاح او فرياد سره الله تعالی دده څخه هغه معلقه پريکړه لرې کوي او يا يې په بهتر څه بدلوي. په حديث شريف کې راځي ، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«لَا يَرُدُّ القَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ، وَلَا يَزِيدُ فِي العُمْرِ إِلَّا البِرُّ» سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٤٤٨)، شرح مشكل الآثار (٨/ ٨٢)

ژباړه: نه ګرځوي قضاء لره ، مګر دعاء او نه زياتوي په عمر کې مګر نيکي.

دعاء هغه عبادت دی چې هيڅلکه نه رد کيږي او د مسلمان لپاره محفوظه وي، چې دعاء ددې خصوصيت په درلودلو سره د انسان زړه ته اطمينان او سکون حاصليږي او د خپل حاجت په اړه يې په زړه کې اميد تل ژوندی وي.

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ، وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ، إِلَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ بِهَا إِحْدَى ثَلَاثٍ: إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا » قَالُوا: إِذًا نُكْثِرُ، قَالَ: «اللَّهُ أَكْثَرُ». مسند أحمد مخرجا (١٧/ ٢١٣). وقال الهيثمي: رجال أحمد وأبي يعلى وأحد إسنادي البزار رجاله رجال الصحيح مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (١١/ ١١)

ژباړه: د ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه نبي عليه السلام وفرمايل: نشته داسې مسلمان چې يوه دعاء وکړي چې په هغې کې ګناه نه وي او نه قطع د صله رحمی وي؛ مګر الله تعالی ورته ورکوي ددعاء په وجه يو له درې شيانو څخه: يا خو ژر دهغه دعاء قبلوي او يا ورلره دعاء ذخيره کوي دآخرت ورځې ته او يا ورڅخه ګرځوي ددعاء په شان مصيبت . صحابه کرامو وويل: نو بيا خو به مونږه دعاګانې زياتې کړو . نبي عليه السلام وفرمايل: الله جل جلاله زيات قبلوونکی دی.

په يو روايت کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:« إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ، يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ أَنْ يَرْفَعَ إِلَيْهِ يَدَيْهِ، فَيَرُدَّهُمَا صِفْرًا » سنن ابن ماجه (٢/ ١٢٧١)

ژباړه: بيشکه ستاسې رب حياء کوونکی ذات دی او ورکوونکی ذات دی ، حياء کوي د خپل بنده نه دا چې پورته کړي ده ته دواړه لاسونه خپل او هغه لاسونه دده واپس کړي خالي.

دعاء انسـان د کمزوری څخه ساتي او د رحمت دروازې برسيره کوي. څوک چې دعاء کول پريږدي ، نو ده په خپل ځان باندې ضعف او کمزوري حاکمه کړه او څوک چې په دعاء باندې هميشه والی کوي، نو ده خپل ځان ته د رحمت دروازې برسيره کړې.

په حديث شريف کې راځي ، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«أَعْجَزَ النَّاسِ مَنْ عَجَزَ عَنِ الدُّعَاءِ» مسند أبي يعلى (١٢/ ٥)، صحيح ابن حبان - محققا (١٠/ ٣٥٠).وصحح رجال ابي يعلى ابوبکر الهيثمي.مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (١١/ ٨)

ژباړه: عاجز ترين له خلکو هغه څوک دی چې عاجز شوی وي له دعاء کولو څخه.

په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ» سنن الترمذي ت شاکر (٥/ ٥٥٢)

ژباړه: د عبدالله بن عمررضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو څخه چې د چا لپاره دروازه ددعاء برسيره کړل شوه، نو د هغه لپاره برسيره کړل شوې دروازې د رحمت .

الله جل جلاله په دعاء کولو امر کړی دی او ددعاء د قبلولو وعده يې هم کړی ده او څوک چې د الله تعالی څخه سوال نکوي، الله تعالی ورباندې په غضـب کيږي. (وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْـتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْـتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَـيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ).غافر: (٦٠)

ترجمه: او فرمايي رب سـتاسې (ای بندگانو زما) تاسې وبولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې). بېشکه هغه کسان چې تکبر (سرکښي) کوي له عبادت څخه زما ژر ده چې ننه به وځي دوی په دوزخ کې په دې حال کې چې خوار او سپک وي.

حافظ ابن کثير ددې په تفسير کې ليکي:(هذا من فضله تبارك وتعالى وكرمه أنه ندب عباده إلى دعائه وتكفل لهم بالإجابة كما كان سفيان الثوري يقول: يا من أحب عباده إليه من سأله فأكثر سؤاله، ويا من أبغض عباده إليه من لم يسأله وليس أحد كذلك غيرك يا رب) تفسير ابن كثير / دار الفكر (٤/ ١٠٤)

ژباړه: دا دالله تعالی مهرباني او کرم څخه ده چې خپل بندگان يې د ځان دعاء ته هڅولي دي او ددوی ددعاگانو د قبلولو ضمانت يې هم کړی دی لکه چې سفيان ثوري رحمه الله به ويل: ای هغه ذاته چې هغه ته له بندگانو څخه ډير خوښ هغه دی چې له ده څخه سـوال وکړي او له ده څخه زيات سوال وکړي. او ای هغه ذاته چې هغه ته مبغوض شخص هغه دی د بندگانو خپلو څخه چې له ده څخه سوال نه کوي . او نشته هيڅوک چې داسې شان ولري پرته له تا څخه ای زما ربه!په يو بل مبارک آيت کې راځي: (فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ).غافر:(١٤)

ترجمه:پس وبولئ تاسې الله په دې حال کې چې خالص کوونکي اوسئ دغه (الله) ته د دين (له شرکه) او اگر که بد گڼي دغه کافران (دغه اخلاص ستاسې)ددې آيت په ترجمه کې مفسرين ليکي:( أي فأخلصوا لله وحده العبادة والدعاء) .تفسير ابن كثير / دار الفكر (٤/ ٩٠)

ژباړه: خالص کړئ خاص الله تعالی لره يواځې د همده لپاره عبادت او دعاء.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهُ مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ» سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٤٥٦)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه څوک چې د الله تعالی څخه خپل حاجتونه ونه غواړي ، الله تعالی وربانديې په غضب کیږي.

الله تعالی پر هغه چا چې د الله تعالی څخه سوال نکوي ځکه وربانديې په غضب کیږي چې د سوال ترک کول دالله تعالی څخه تکبر او استغناء ده او د مخلوقاتو د خالق څخه تکبر او استغناء حقیر او بیچاره بنده ته جائز نه ده او د الله د غضب څخه مراد بنده ته د الله د عقاب رسیدل دي. مرقاة المفاتيح (٧/ ١٢٥)

ددنیا او آخرت ټول نعمتونه، رحمتونه، خوښي، مالداري، ثروت ، کامیابي ، ناکامي د الله تعالی سره دي او باید چې مونږ بندګان يې ورڅخه وغواړو. الله تعالی فرمایلي دي:( مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ * يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّـماءِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ).فاطر: (٢-٣)

ترجمه: هر هغه شی چې پرانیځي الله لپاره د خلقو له رحمت خپل ( لکه صحت و سعت) پس نشته هیڅوک بندوونکی د هغه.او هر هغه شی چې بند کړي (له عطاء خپلې) پس نشته لیږوونکی د هغه (هیڅوک) پس له بندولو د الله او همدی دی ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښـه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصـلحت سره کوي). ای خلقو یاد کړئ نعمت احسان دالله پر تاسې (چې حیات او روزي او نور يې درکړي دي) آیا شته بل کوم پیدا کوونکی بې له الله چې تاسې ته روزي درکړي له اسمانونو (په سبب د باران) او (له محصولاتو د) ځمکې نه (په سبب د زرغونولو بلکه نشته داسې څوک) نشته لایق د عبادت بله هیڅوک مګر همدی دی پس له کوم جهته ګرځولی کیږئ (له توحیده شرک ته).

همـداراز د ټول حـاجتونو پوره کوونکی الله تعالی دی ، که واړه دي او که لوی دي ، که هغه نږدې دي او یا لرې دي او د ټولو مصیبتونو، بدمرغیو، غمونو، بدني او مالي مشکلاتو لرې کوونکی هم الله جل جلاله دی،نو ای مسلمانانو د خپلو د مشکلاتو حل له الله تعالی څخه په فریاد ، عذر او زاری سره وغواړئ.

الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَإِن يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلاَ رَآدَّ لِفَضْلِهِ يُصَيبُ بِهِ مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ).یونس: (١٠٧)

ترجمه: او که ورسوي تاته الله کوم قسم ضرر (لکه مرض او فقر) نو نشته لرې کوونکی د هغه (هیڅوک) مګر هم دی دی او که اراده وکړي تاته د خیر (لکه صـحت او غنا) نو نشـته هیڅ منع کوونکی د فضـل د ده رسـوي الله دا خیر هر هغه چاته چې اراده وفرمایي له بندګانو خپلو نه او هم دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم کوونکی دی.

د الله تعالی خزانې دومره ډیرې دي چې که ټول انسانان ورڅخه خپل مرادونه وغواړي ، د الله تعالی په خزانو کې به کمی رانشي.

په يو قدسي حديث شريف کې راځي: نبي عليه السلام فرمايې چې الله جل جلاله فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: « يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ، إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ، فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ، إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ، فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ ... يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ» صحيح مسلم (٤/ ١٩٩٤)

ژباړه: ای زما بندګانو! تاسې ټول وږي یاست مګر داچې چاته زه خوراک ورکړم، نو زما څخه خوراک وغواړئ.ای زما بندګانو! تاسې ټول لوڅ یاست مګر داچې څوک زه په جامو پټ کړم ،نو له ماڅخه لباس وغواړئ چې زه لباس درکړم. ای زما بندګانو! که چیرې ستاسې مخکني او وروستني انسانان ستاسې او پیریان ستاسې په یو خالي میدان کې ودریږي او زه هریو انسان ته د هغه غوښتل شوي شیان ورکړم ، کم به نه کړي دا کار د هغو خزانو څخه چې زما سره دي مګر دومره به کم کړي لکه څومره چې کموي د ستنه (د ګنډلو) چې داخل کړل شي په بحر کې.

داچې د الله تعالی سره د هر څه خرانې دي او ددغو خزانو کُنجیانې (کِلیانې) یواځې د الله تعالی سره دي او دغه خزانې د هر ډول نعمتونو او رحمتونو څخه ډکې دي او دغه نعمتونه او رحمتونه په دعاء سره ترلاسه کیږي ، ځکه حضرت عائشه ام المؤمنین رضي الله عنها فرمایلي دي: داچې: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «سَلُوا اللَّهَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الشِّسْعَ؛ فَإِنَّ اللَّهَ إِنْ لَمْ يُيَسِّرْهُ لَمْ يَتَيَسَّرْ».مسند أبي يعلى (٨/ ٤٤)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې: د الله تعالی څخه د هرې شي سوال کوئ، آن د څپلۍ د بندونو د شکیدلو په اړه هم د الله تعالی څخه سوال کوئ. بیشکه که چیرې الله تعالی هغه آسان نه کړي ، نو هغه آسانیږي نه.

**درنو مسلمانانو!** د الله تعالی د رسولانو او انبیاوو لار اختیار کړئ او کله چې درته کومه پریشاني او تکلیف در ورسیدلو، نو دعاء ته مخه کړئ، ځکه دعاء د ټولو مشکلاتو څخه د خلاصون بهترینه وسیله ده.

کله چې غمونه دربانديې امبار شول او ددښمن د ظلم لاندې واقع شوئ، نو دواړه لاسونه د آسمان په لور پورته کړه او د خپل رب څخه د خلاصون دعاء وکړه او په دعاء کې مشروع الحاح وکړه.

**رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ.**

**اقولُ قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**